مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبید الله نادر

۲۰۲۳/۰۴/۲۵

# د اَمن او د سولې ترانې

زما په خیـــالو کې،راحــــــــــتونه دي بـــیده
خوبو کې د هـــوس مې، تعـــبیرونه دي بیده
رقیبه په ظاهر صــورت مې تیر نه شـې ته بیا
په دې ورانه بـــیدیا کـې بهـــارونه دي بیده
تل ګرځــم، کهکشان کې، د خـــیالونو په اوږو
زمـــا په تصــور کــــې، جـهـــانونه دي بـیده
تیریږي ســـتا له غـمه، دا زمـــا تو له ژوندون
زما ســوی ګوګل کې، ســـتا غمــونه دي بیده
دا ستا د سترګو یاد،په هر ځای راسره مل وي
شوخۍ کې ستا د ســــترګو، آفــــتونه دي بیده
رسا قد و قـــامت دي هـــــم، فتنې راپاڅــوي
چې دي قد و قـــامت کې ،قـــیامتونه دي بیده
لا تر اوســـه ، لاروی یم د مینې د کـــــاروان
نصیب کې مې د لارې ، منزلونه دي بــــــیده
تصویر دي لا تر اوسه، خاطرو کې ده ژوندۍ
زما په تصور کې ، ســــتا یادونه دي بـــــیده
ظاهره خـــــاموشی مې، چې تیر نشــــی زاهده
دریاب کې د زړګي مې، طـــوفـــانونه دي بیده
بی ســـوز و ســـازه نه یم، په کاروان کې د فنا
چوپتیا کې د ګـــوګل مې، فریادونه دي بـــیده
چې د اَمن او د ســولې ، ترې نه خیژي ترانې
دردمن زړه کې مې داسې، پــیغامونه دي بیده

سید عبید الله نادر
آمریکا المیدا سانفرانسسکو د ۲۰۲۲ کال جولای میاشت


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ